دو فصلنامۀ
علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنی مجله

د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسۀ تحصیلات عالی لوګر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# د جُمعې د ورځې او لمانځه احکام

**مفتی سید ضیاءالاحمد صارم**

لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس، لوګر: افغانستان.

برېښنالیک: ziaulahmadsarem@gmail.com

**لنډیز**

**د څېړنې اجمالي بیان:** په دې مقاله کې د جُمعې د ورځې او لمانځه اړوند مستند اړین حکمونه راوړل شوي دي، چې زده کول يې د هرمسلمان له پاره اړین دي.

په جُمُعه باندې ددې ورځې د نومول کېدو، په دې ورځ د لمانځه د فرضیت، د لمانځه د وخت، د روا والي او وجوب د شرطونو، رکاتونو د شمېر او دې ته ورته نورو مسئلو بیان شوی.

**د څېړنې موخه: د** جُمعې د ورځې او لمانځه په اړه د بېلابېلو احکامو پېژندنه.

**څېړندود:** دا څېړنه د موخو له پلوه بنسټیزه او د اطلاعاتو او معلوماتو له مخې کیفي ده، چې د قران کریم او حدیثونو په رڼا کې د حنفي مذهب د فقهاوو له اقوالو په مستنده توګه ګټه ترې اخیستل شوې او تحلیل يې په قیاسي ډول له کل څخه جز طرف ته شوی دی.

**پایلې:** د جُمعې مبارکه ورځ د محمدي امت د عبادت له پاره غوره شوې ده، چې وړاندې له دې نورو امتونو ته د الله تعالی له لوري په عبادت سره د دې ورځې د لمانځلو حکم نه دی شوی، ښایي چې مسلمانان دا ورځ د الله تعالی په عبادت سره ولمانځي.

**پایلیزه:** له مبارکو ایتونو او حدیثونوڅخه په ډاګه شوه، چې د جُمعې مبارکه ورځ په عبادت سره لمانځل د محمدي امت له ځانګړتیاوو څخه ده.

**کلیدي کلیمې**: احکام، جُمعې مبارکه ورځ، ځانګړتیاوې،مستند، بنسټیز.

**استناد**: صارم، ضیاءالاحمد. (۱۴۰۳) د جُمعې د لمانځه احکام او ځانګړتیاوې. د **عینک** *علمی*-څېړنیزه مجله، دویم کال، ۳ ګڼه، صفحه ۱۸۴-۲۰۳.

خپرندویه اداره: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه
د لیکوال یا لیکوالانو حق ©.

## سریزه

د جُمعې مبارکه ورځ چې الله تعالی د محمدي امت د عبادت له پاره غوره کړې ده او دې ورځې ته یې په نورو ورځو باندې فضیلت ورکړی، د اسلام مقدس دین له شعائرو څخه ګڼل کیږي، د جُمعې د ورځې او لمانځه په اړه زموږ په شریعت کې ځانګړي احکام شته، چې زده کول او عملي کول یې د هر مکلف مسلمان له پاره اړین دي، خو له بده‌مرغه چې ګڼ شمېرخلك د جُمعې د ورځې، لمانځه او ځانګړتیاوو په اړه ډېر کم معلومات لري.

ددې له پاره چې خلك په اساني سره وکولای شي، چې په مستند ډول د جُمعې د ورځې او لمانځه په اړه اړین احکام زده کړي، ما عاجز بنده دا موضوع د لیکنې له پاره غوره کړه.

الله تعالی دې دا مقاله زما او زما د والدینو له پاره تل پاتې صدقه او د آخرت توښه وګرځوي او لوستونکو ته دې الله تعالی د دې مقالې په لوستلو سره د دنیا او آخرت ښېګڼې ورپه برخه کړي.

## مواد او څېړندود

دا څېړنه د موخو له پلوه بنسټیزه او د اطلاعاتو او معلوماتو له مخې کیفي ده، چې د قران کریم او حدیثونو په رڼا کې د علماوو او حنفي مذهب د فقهاوو له قوله په مستنده توګه ګټه ترې اخیستل شوې او تحلیل یې په قیاسي ډول له کل څخه جز طرف ته شوی دی.

### د جُمعې ورځې ته ولې جُمعه ویل کیږي

جُمعه اسلامي نوم دی، دجاهلیت په دورکې دې ورځې ته عروبه ویل کېده، په دې اړه چې دجُمعې ورځې ته ولې جُمعه ویل کیږي؟ له علماوو څخه بېلابېل اقوال نقل شوي دي، چې له ډلې یې څو قولونه په لاندې ډول دي:

- د جُمعې ورځې ته ځکه جُمعه ویل کیږي، چې په دې ورځ باندې خلك دجُمعې لمانځه ته سره جمعه (یوځای) کیږي.
- دجمعې ورځې ته ځکه جُمعه ویل کیږي، چې په دې ورځ باندې الله تعالی دحضرت ادم علیه السلام دپیدایښت اسباب جمعه کړي و.
- دجُمعې ورځې ته ځکه جُمعه ویل کیږي، چې په دې ورځ باندې کعب بن لؤی خپل قوم راجمع کړ، وعظ اونصیحت یې ورته وکړ، دبیت الله دتعظیم کولو امر یې ورته وکړ او هغوی ته یې دهغوی له ډلې د وروستي پیغمبر د پیدا کېدو خبر ورکړ.
- دجُمعې ورځې ته ځکه جُمعه ویل کیږي، چې ځمکې ته دحضرت ادم علیه السلام او بي بي حوا له راکوزېدو وروسته په لومړي ځل دوی له ډېر بېلتون وروسته د عرفات په غونډۍ سره جمعه (یوځای) شول، معنی دا، چې یو له بل سره یې پیدا کړل.
- دجُمعې ورځې ته ځکه جُمعه ویل کیږي، چې قریش په دې ورځ خپل مشر قصي ته په دارالندوه کې راجمعه شوي وو.

- دجُمعې ورځې ته ځکه جُمعه وايي، چې په دې ورځ کې ډېرې ښېګڼې اوخيرونه جمعه شوي دي. [٤٠]

**له قرانکريم اونبوي مبارکو حديثونو څخه د جُمعې د لمانځه ثبوت**

د جُمعې لمونځ په قران کريم، نبوي مبارکوحديثونو او د علماوو په اجماع باندې ثابت دی، د بيلگې په ډول د ځينو هغو مبارکو آيتونو او نبوي مبارکو حديثونو يادونه کوو، چې په هغو کې د جُمعې د لمانځه فرض کېدل ثابت شوي دي:

ياأَيها الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِى لِلصَّلَاةِ مِنْ يومِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبيعَ ذَلِكُمْ خَيرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ. [٤١]

ژباړه: ای مؤمنانو کله چې د جُمعې په ورځ د لمانځه له پاره اذان وشي، نو تاسې د الله تعالى د يادولو (د جمعې د لمانځه) لوري ته هڅه وکړئ، پلورل اوپې رل پرېږدئ؛ ځکه چې ستاسو د لمانځه طرف ته تلل ډېرغوره دي ستاسو لپاره، که چېرته تاسې پوهېږئ.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عن النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ:..... أَنَّ اللَّهَ قَدْ افْتَرَضَ عَلَيكُمْ الْجُمُعَةَ فِى مَقَامِى هَذَا، فِى يومِى هَذَا، فِى شَهْرِى هَذَا، مِنْ عَامِى هَذَا إِلَى يومِ الْقِيامَةِ،. [٤٢]

ژباړه: له حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی، چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: له شك پرته چې الله تعالى فرض کړی دی په تاسې باندې د جمعې لمونځ، زما په دې ځای کې، زما په دې ورځ کې، زما په دې مياشت کې او زما په دې کال کې د قيامت تر ورځې پورې.

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنِ النَّبِى صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِى جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةً: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِى، أَوْ مَرِيضٌ. [٤٣]

ژباړه: له حضرت طارق بن شهاب رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دجمعې لمونځ په هرمسلمان باندې فرض دی، پرته له څلورو کسانو څخه چې هغه غلام، ښځه، ماشوم اومريض دي.

**څوك چې د جُمعې د لمانځه له فرضيت څخه منکر يی په دې سره کافر گرځي**

د جُمعې لمونځ هم د نورو لمونځونو په شان فرض عين دی، ځکه چې ثبوت يې په قطعي دلايلو سره راغلی دی، د الله تعالى له کتاب، له نبوي مبارکو حديثونو او اجماع څخه يې فرض کېدل ثابت شوي

٤٠ـ عمدة القاري ـ كتاب الجمعه. ج ٦. ص ٢٣١. الناشر: مکتبه امداديه کوټه.

٤١ سورة الجمعه ـ ايت **٩**.

٤٢ـ سنن ابن ماجه ـ ابواب اقامة الصلوات ـ باب فرض الجمعة. ج ٢. ص ١٨٢. رقم ١٠٨٠. الناشر: المكتبة العصرية بيروت. سنة الطبع: ١٤٣٠ هـ ق.

٤٣ـ سنن ابي داود ـ ابواب الجمعة ـ باب الجمعة للمملوك والمرأة. ج ١. ص ٢٨٠. رقم ١٠٦٧. الناشر: المكتبة العصرية بيروت.

دي، نو ځکه خو چې څوک دجُمعې د لمانځه له فرض کېدو څخه منکر شي، نو په دې سره د اسلام له دائرې څخه وځي او کافر جوړيږي.[٤٤]

**د جُمعې د لمانځه فرض اوسنت ټول دولس رکعته دي**

د جُمعې د لمانځه فرض دوه رکعته او سنت لس رکعته دي، چې ټولیز شمېر یې دولس رکعته کیږي، لومړی څلور رکعته سنت ادا کیږي، له هغه وروسته خطبه ویل کیږي، له خطبې وروسته دوه رکعته فرض اداکیږي، له هغه وروسته بیاڅلور رکعته سنت اداکیږي، او له هغه وروسته بیا دوه رکعته سنت اداکیږي.[٤٥]

**د جُمُعې د لمانځه د روا کېدو شرطونه**

زموږ احنافو په مذهب دجُمعې د لمانځه د ادا کولو له پاره پنځه شرطونه دي، چې لاندې په تفصیل سره بیانیږي:

۱ـ ښار یا لوی کلی به وي ، هغه چې دښارپه حکم کې وي.

۲ـ پاچا یا د هغه نایب به موجود وي او یا به د هغه له لوري اجازه شوې وي ، که دفتنې یا مړينې په وجه پادشاه یا د هغه نائب نځ وي، داسې مهال دې خلک دخپل ځان له پاره څوک غوره کړي، چې دوی ته د جُمعې د لمانځه امامت وکړي.[٤٦]

۳ـ خلک به موجود وي، په دې اړه د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله مسلک دا دی، چی له امام پرته به دری کسان وي او د امام ابو یوسف رحمه الله مسلک دا دی، چې له امام پرته به دوه کسان موجود وي.[٤٧]

۴ـ د ماسپښین وخت به وي.[٤٨]

۵ـ خطبه به ویل کیږي.[٤٩]

هغه څوک چې د جُمعې لمونځ پرې واجب دی:

کله چې څوک دلاندې شپږو شرطونو جوګه وګرځي، معنی داچې داشپږ شرطونه په هغه کې وموندل شي، نو هغه باندې د جُمعې لمونځ واجب دی، چې داشپږ شرطونه په دې ډول دي:

۱ـ عقل

[٤٤] ـ الموسوعة الفقهية ـ حرف الصاد ـ مطلب: صلاة الجمعة. ج ۲۷. ص ۱۹۳. الناشر: امیرحمزه کتب خانه کوټه. سنة الطبع: ۱۴۲۷هـ ق.

[٤٥] ـ اعلاءالسنن ـ ابواب الجمعه ـ باب النوافل والسنن. ج ۵. ص ۱۸۸۰ ـ ۱۸۸۱. الناشر: دارالفکربیروت لبنان.

[٤٦] ـ الفتاوی الهندیه ـ کتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفي صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱۴۶. الناشر: مکتبه فاروقیه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.

[٤٧] ـ بدائع الصنائع ـ کتاب الصلاة ـ فصل في صلاة الجمعة. ج ۱. ص ٦۰۰. الناشر: مکتبه عمریه بلوچستان.

[٤٨] ـ خزانة الفقه ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ص ٦٦. طبع: مکتبه رشیدیه اکوړه خټک.

[٤٩] ـ بدائع الصنائع ـ کتاب الصلاة ـ فصل في صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۵۸۳. الناشر: مکتبه عمریه بلوچستان.سنة الطبع: ۱۴۰۴ هـ ق.

۲ـ بلوغ
۳ـ ذکورة (نارینتوب)
۴ـ حریت(اصیل والی)
۵ـ مقیم کېدل
٦ـ د بدن جوړوالی.(۵۰)

**هغه کسان چې د جُمعې لمونځ پرې واجب نه دی**

په پنځو کسانو دجُمعې لمونځ واجب نه دی:
۱ـ مسافر.
۲ـ ناروغ.
۳ـ ښځه.
۴ـ غلام.
۵ـ او ړوند.

په دې اړه د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دا دی، چې له ړانده څخه هغه ړوند مراد دی، چې لارښود نه لري، خوصاحبین (امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله) وایي، چې که لارښود لري یا یې نه لري په دواړو صورتونو کې په ړانده باندې د جُمعې لمونځ واجب نه دی.(۵۱)

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړنۍ جُمعه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د لومړي ځل له پاره د جُمعې لمونځ په وادي د بني سالم بن عمر کې هغه وخت اداکړ ،چې کله هغه له خپل هجرت وروسته له قباء څخه مدینې منورې ته داسې مهال تشریف یووړ چې په مدینه منوره کې یوجومات هم اباد نه و.(۵۲)

**د جُمعې د لمانځه له پاره ښار یا لوی کلی شرط دی**

زموږ د احنافو په مذهب د جُمعې د لمانځه د رواوالي لپاره ښار یا لوی کلی، چې د ښار په حکم کې وي شرط دی، کوم کلی چې د ښار په حکم کې نه وي او د ښار اطلاق وربانديې ونه شي، په هغه کلی کې د جمعې لمونځ ناروادی، ځکه چې صحابه وو رضي الله عنهم د نړۍ بیلابیلې سیمې او هېوادونه فتحه کړل، خو هېڅ کله هم له دوی څخه په وړوکي کلی کې دجمعې د لمانځه د اداکولو نقل نه دی شوی او نه په خپله له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه په وړوکي کلي کې د جمعې لمونځ ثابت

۵۰ ـ الفتاوی الهندیه ـ کتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفي صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱۴۴. الناشر: مکتبه فاروقیه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.
۵۱ ـ النتف في الفتاوی ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ص ٦۳. الناشر: نورالقران کتاب خانه کوټه.
۵۲ ـ البحرالرائق ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۲. ص ۲۴۵. الناشر: المکتبة الحقانیة بشاور.

دی، له دې څخه څرګندېږي، چې د جمعې د لمانځه د صحت اوسمون لپاره ښار یاهم لوی کلی چې د ښار په معنی کې وي شرط دی.(۵۳)

**د ښار فنا کوم ځای ته ویل کیږي**

یوله هغو ځایونو څخه، چې د جُمعې لمونځ په کې روا دی هغه دښار فنا ده، د ښار فنا هغه ځای ته ویل کیږي، چې له ښار څخه ګرد چاپېر وي، په دې اړه علامه حصکفي رحمه الله لیکلي دي، چې دمیلونو شمار په فنا د ښار کې اعتبار نه لري، بلکې هرهغه ځای چې دښار د اوسېدونکو د ګټې له پاره وی هماغه دښارفنا ګڼل کیږي. د بې لګې په توګه: د مړو ښخبولو ځای، د اسونو ځغلولو ځای، د ټرنېنګ کولوځای او داسې نور ټول ځایونه دښار په فنا کې داخل دي.(۵٤)

**د یوه ښار په ډېرو برخو کې د جُمعې لمونځ**

کوم ځای کې چې د جُمعې د لمانځه شرطونه ومونډل شي، نو هلته لکه څنګه چې په یوه ځای کې د جمعې لمونځ روا دی همدارنګه په ډېرو ځایونو کې هم روا دی، سره له دې چې دا مسئله د علماوو ترمنځ اختلافی ده؛ خو مفتي به قول د امام محمد رحمه الله دی، چې دیوه ښار په ډېرو برخو کې هم د جمعې لمونځ روادی.(۵۵)

**په وړوکي کلي کې د جُمعې د لمانځه حکم**

زموږ احنافو فقهاوو د جمعې د لمانځه د وجوب لپاره په نورو شرطونو سربېره ښار یا لوی کلی هم شرط ګرځولی دی، نو ځکه خو په هغو کلیو کې چې په عرف کې وړوکی ګڼل کیږي او د وګړو (اوسېدونکو) شمېر یې له هغو کم وي، چې د لوی کلي لپاره فقهاوو لازم ګڼلی، دې ډول سیمو کې د شرطونو د نه موجودوالي له امله د جمعې او اخترونو لمونځونه واجب نه دي او په کوم ځای کې چې وجوب نه وي، نو هلته د جمعې او اخترونو لمونځونه کول مکروه تحریمي دي. په کولو سره یې د ماسپښین له لمانځه څخه ذمه نه فارغیږي.(۵٦)

**د هغه کلي په اړه، چې د ښارحکم لري د معاصرو مفتیانو فتوا:**

وړاندې ذکرشول، چې زموږ د احنافو په مذهب د جُمعې د لمانځه د صحت لپاره ښار یا لوی کلی، چې د ښار په حکم کې وي شرط دی، په دې اړه چې لوی کلی چې د ښار په حکم کې وي کوم کلي ته ویل کیږي؟

---

۵۳ ـ الفقه الحنفي في ثوبه الجدید ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۳۱۸. الناشر: المکتبة الطارق کابل.

۵٤ ـ الدرالمختارعلی صدرردالمحتار ـ کتاب الصلاة ـ باب الجمعة. ج ۲. ص ۱۳۸. الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

۵۵ ـ ردالمحتارمع الدرالمختار ـ کتاب الصلاة ـ باب الجمعة. ج ۲. ص ۱۲۵. الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

۵٦ ـ الموسوعة الفقهیة ـ حرف الصاد ـ مطلب: صلاة الجمعة. ج ۲۷. ص ۱۹٦. الناشر: امیرحمزه کتب خانه کوېټه. سنة الطبع: ۱۴۲۷هـ ق.

زموږ د احنافو د مذهب درې لويې معتمدې فتاواوې، چې اوسني دور کې دمعاصرو مسلو خزانې دي، چې هغه عبارت دي له فتاوای دارالعلوم دیوبند، فتاوای حقانیه، فتاوای فرېدیه اوله دې وروسته چې په دې موضوع کوم ځانګړي کتابونه لیکل شوي دي، هغو ټولو کې په دې باندې بحث شوی دی، چې د کوم کلي د وګړو شمېر د سړيو، ښځو، ماشومانو، سپین ږيرو، مسلمانانو اوکافرانو په ګډون دوه زره کسانو ته رسيږي او ددې ترڅنګ د خلکو اړينې اړتياوې هم په دې ځای کې پوره کيږي د ښارحکم لري.

کومو سيمو کې، چې ياد شرطونه ومونډل شي، چې هغه دوه زره اوسېدونکي او د ژوند دضروریاتو پوره کېدل دي، نو ددې ځای په مسلمانانو باندې د جمعې لمونځ فرض دی او په نه کولو سره یې مسلمانان ګناه کونکي ګرځي.

فقهاوو چې په خپلو کتابونو کې داسواقو (ښارونو) الفاظ ذکر کړي دي، له هغو څخه لوی ښارونه مراد نه دي، ځکه چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم اوصحابه وو رضي الله عنهم په دور کې لوی ښارونه نه وو، تر دې چې په مکه مکرمه او مدېنه منوره کې هم هغه مهال لوی ښارونه نه وو، له اسواقو څخه مراد هغه دوکانونه دي، چې دژوند اړين توکي او ضروريات په کې مونډل کيږي.[٥٧]

**د کليو اوسېدونکي به د جُمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره ادا کوي**

کوم کلی چې د ښار په حکم کې نه وي او کوم شرطونه چې علماوو دلوی کلي لپاره ذکر کړي دي، هغه په دې ځای کې نه موجوديږي، نو په داسې کلي کې به ددې کلي اوسېدونکي د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره ادا کوي؛ ځکه چې په دوی باندې د جمعې لمونځ نشته.[٥٨]

**په ښارونو او لويو کليو کې د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره ادا کول مکروه دي**

په ښارونو او لويو کليو کې، چې د جمعې لمونځ ادا کيږي، هلته د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره ادا کول مکروه دي، دبېلګې په توګه: کوم خلک چې په ښارونو او لويو کليو کې اوسيږي او له دوی څخه دځه عذر له امله د جمعې لمونځ پاته شي، همدارنګه هغه مسافر چې ښار ته راغلي وي او کوم مريضان چې ښار کې ژوند کوي سره له دې چې دوی باندې د جُمعې لمونځ فرض نه دی، خو بیاهم د دوی لپاره د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره ادا کول مکروه عمل دی، دوی به د ماسپښين لمونځ په یوازېتوب سره ادا کوي، ځکه چې په دې سره د جُمعې په

---

[٥٧] ـ انظرللتفصيل فتاوای دارالعلوم دیوبند فارسي ـ مسائل نمازجمعه. ج ۵. ص ۱۰. الناشر: مکتبه فاروقیه بشاور. وفتاوای فریدیه بشتو ـ باب صلاة الجمعة. ج ۳. ص ۱۶۳. الناشر: جدید مکتبه رشېدیه بشاور. وایضا فتاوای حقانیه ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۳. ص ۱۱۵. طبع: جدید کتب خانه جنوبي وزیرستان.

[٥٨] ـ بدائع الصنائع ـ کتاب الصلاة ـ فصل في صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۶۰۵. الناشر: مکتبه عمریه بلوچستان.

لمانځه کې د خلکو کموالی راځي، تردې چې په ښار يالوی کلي کې د بندیانو لپاره هم فقهاوو د جمعې په ورځ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره کول مکروه ګڼلی دی.[59]

**د پاچا له شتون یا اجازې پرته د جُمعې د لمانځه حکم**

اوس مهال چې دجُمعې کوم لمونځونه کیږی، په دې کې نه پاچا شته، نه دهغه نائب (ځای ناستی) موجود وي او نه د هغه له لوري اجازه شوې وي، کوم خطيب چې خلکو ته دجمعې لمونځ ورکوی، هغه ته د پاچا له لوري نه په څرګند ډول اونه د دلالت په ډول اجازه شوې وي، سره له دې چې دا کار په ښکاره زمونږ له حنفي فقهې سره په ټکر کې دی، ځکه چې زموږ د حنفي فقهې په کتابونو کې په دې باندې تصریح شوې ده، چې د جُمعې د لمانځه دصحت لپاره د پاچا یا دهغه د ځای ناستي شتون اړین دی او یا دهغه له خوا اجازه ضروری ده.

خو که اصل ته وکتل شي، نو دا کار چې د پاچا یا د هغه د ځای ناستي له اجازې پرته دجمعې لمونځ کول دي، زموږ د حنفي فقهې سره په ټکر کې نه دی، ځکه د کوم شرط یادونه چې فقهاوو کړې ده ،چې هغه دپاچا یا دهغه دنائب شتون دی او یا دهغه له لوري اجازه کول دي دا یواځې ددې لپاره ده، چې دفتنې دروازه وتړل شي، معنی دا چې یاد شرط فقهاوو ددې لپاره راوړی دی، چې خلک دجمعې دلمانځه په امامت کې اختلاف ونه کړي، که داشرط نه وی، نو هرڅوک به ددې غوښتنه کوی، چې زه دې د جمعې د لمانځه امامت وکړم ددې له پاره چې خلک په یاده فتنه کې رانه شي، نو فقهاوو د پاچا یا دهغه دځای ناستي او د دوی له لوري د یوه خطیب د ګمارل کېدو شرط ذکر کړی دی؛ خو کله چې د یوې سیمې خلک یو څوک په خپله خوښه د خطیب په توګه غوره کړي، چې هغه دوی ته د جمعې لمونځ ادا کړي، نو دا مهال سره له دې چې یاد شرط موجود نه وی بیاهم د جمعې لمونځ روادی، دامسئله زمونږ دحنفي فقهې په کتابونو کې په څرګند ډول بیان شوې ده.[60]

ددې له پاره ځینو علماوو د حضرت عثمان رضي الله عنه واقعه په استدلال کې راوړې ده، چې د هغه د محاصره کېدو پرمهال حضرت علي کرم الله وجهه د جمعې لمونځ ادا کړی و، سره له دې چې هغه مهال د مسلمانانو پاچا حضرت عثمان رضي الله عنه د باغیانو په محاصره کې و، نوموړی نه په خپله موجود و اونه یې چاته اجازه کړې وه، ځکه که حضرت عثمان رضي الله عنه چاته اجازه کړې وی، نو ضرور به ددې اجازې نقل شوی و، نو څرګنده شوه چې کله د فتنې ویره نه وي او خلک دامامت په سر خپل منځي اختلاف نه کوي، نو د پاچا یا دهغه د نائب له اجازې پرته دجمعې لمونځ روا دی.[61]

---

59 ـ الفتاوی الهندیه ـ کتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفي صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱۴۵. الناشر: مکتبه فاروقیه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.

60 ـ الموسوعة الفقهية ـ حرف الصاد ـ مطلب: صلاة الجمعة. ج ۲۷. ص ۱۹۷. الناشر: امیرحمزه کتب خانه کوټه. سنة الطبع: ۱۴۲۷هـ ق.

61 ـ بدائع الصنائع ـ کتاب الصلاة ـ فصل في صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۵۸۸. الناشر: مکتبه عمریه بلوچستان.

**د جُمعې د لمانځه لپاره جماعت شرط دی**

د نورو شرطونو ترڅنګ دجمعې د لمانځه د صحت لپاره جماعت هم شرط دی، ځکه چې د جمعې لمونځ په یوازېتوب سره نه اداکیږي، په دې اړه چې دا جماعت به له څوکسانو څخه جوړ وي له فقهاوو څخه بیلابیل اندونه نقل شوي دي، خو مفتی به قول دادی، چې له امام پرته به درې یا تر درېیو زیات کسان وي، که چېرته له امام پرته درې کسان نه وي، یو یا دوه کسان وي، نو داسې مهال دجمعې لمونځ نه اداکیږي.[٦٢]

**د جُمعې د لمانځه وخت**

د جُمعې د لمانځه وخت د ماسپښین د لمانځه وخت دی، کله چې زوال وشي معنی داچې لمر داسمان له منځ څخه دقبلې لوري ته کوږ شي، له همدې وخت څخه د جُمعې د لمانځه وخت پیلیږي او په کوم وخت سره چې دماسپښین وخت پای ته رسیږي، په هغه وخت سره دجُمعې دلمانځه وخت هم پای ته رسیږي، چې هغه له اصلي سیوري پرته دسیوري دوه چنده کېدل دي.[٦٣]

**د جُمعې د لمانځه مستحب وخت**

په دې کې شک نشته، چې د جمعې د لمانځه وخت دماسپښین دلمانځه وخت دی، په دې اړه ځینو فقهاوو لیکلي دي، چې کوم وخت د ماسپښین د لمانځه له پاره مستحب دی، چې هغه د ژمي په موسم کې وختي اداکول دي او د اوړي په موسم کې ناوخته اداکول دي همدا وخت د جمعې د لمانځه له پاره هم مستحب او غوره دی، خومفتی به قول دادی، چې د جُمعې لمونځ په دواړو موسمونو کې وختي اداکول غوره دي، ځکه چې له ګڼ شمېر حدیثونو څخه وختي اداکول ثابت دي.[٦٤]

**د جُمعې د لمانځه لپاره خطبه ویل شرط دي**

د جُمعې د لمانځه د صحت لپاره خطبه ویل شرط او فرض دي، که چېرته د جمعې د لمانځه لپاره خطبه ونه ویل ش، نو د جمعې لمونځ نه اداکیږي.[٦٥]

**د خطبې د صحت لپاره له خطیب پرته د دریو کسانو شتون شرط دی**

کوم شرط چې د جمعې د لمانځه د صحت له پاره اړین دی، چې هغه له امام پرته د دریو کسانو شتون دی، همدا شرط د خطبې د صحت لپاره هم اړین دی، معنی داچې خطبه هغه مهال صحیح کیږي، چې د ویلو په وخت کې یې له خطیب پرته درې کسان موجود وي او ددې دریو کسانو په اړه داضروری

٦٢ ـ الموسوعة الفقهية ـ حرف الصاد ـ مطلب: صلاة الجمعة. ج ٢٧. ص ٢٠٢. الناشر: امیرحمزه کتب خانه کوېټه. سنة الطبع: ١۴٢٧هـ ق.

٦٣ ـ بدائع الصنائع ـ كتاب الصلاة ـ فصل في صلاة الجمعة. ج ١. ص ٦٠٢. الناشر: مكتبه عمريه بلوچستان.

٦٤ ـ ردالمحتارعلى الدرالمختار ـ كتاب الصلاة ـ ج ١. ص ٣٦٧. الناشر: دارالفكربيروت. سنة الطبع: ١٣١٢ هـ ق.

٦٥ ـ البحرالرائق ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ٢. ص ٢٥٦. الناشر: المكتبة الحقانية بشاور.

ده، چې دوی به هغه خلك وي چې د دوی په شتون كې د جمعې لمونځ صحيح كيږي، يعنې دوی درې واړه به نارينه، هوښياران او بالغان وي.

په دې اړه چې د دوی دريو واړو لپاره دخطبې اوريدل شرط دي اوكه نه؟ علماوو ليكلي دي، چې يوازې د دوی وجود اړين دی كه دوی كاڼه وي يا له خطيب څخه لرې واټن كې وي او يا ويده شوي وي په دې وجه دوی خطبه وانه وري، بیاهم خطبه صحيح ده يوازې د دوی شتون شرط دی.[٦٦]

**دوه خطبې ويل سنت دي**

د جُمعې د لمانځه له پاره يوه خطبه ويل شرط او فرض ده، خو دوې خطبې ويل چې د دواړو ترمنځ ناسته وشي سنت كار دی، ښايي چې دوه خطبې په ولاړه وويل شي كنې فرض په يوې خطبې سره هم اداكيږي او بل د جمعې د لمانځه له سنتونو څخه داهم ده، چې خطيب به په منبر باندې خطبه وايي كه په منبر يې ونه وايي، نو دا كار له نبوي سنتوسره په ټكر كې دی، ځكه چې رحمت عالم سيدالعرب والعجم صلى الله عليه وسلم به په منبر د پاسه خطبه ويلې.[٦٧]

**د خطبې پرمهال د اوريدونكو د ناستې طريقه**

د خطبې پرمهال د اوريدونكوله پاره د ناستې كوم ځانګړی كيفيت كتابونو كې لازم نه دی ګڼل شوی، سره له دې چې ځينو فقهاوو د تشهد پرمهال د ناستې كيفيت غوره اومستحب بللى دی، خو راجح قول دا دی چې هرډول كيناستلوكې څه باك نشته، ځكه چې ګڼ شمېرحديثونوكې دخطبې پرمهال دتشهد په شان له كيناستلو پرته دناستې نور ډولونه هم نقل شوی دی.[٦٨]

**د خطبې پر مهال د خطيب لپاره په لاس كې د تورې نيولو حكم**

په دې اړه د اسلامي امت ټول فقها يوه خوله دي، چې كومې سيمې دمسلمانانو له خوا په جهاد او زور سره فتحه شوې دي، هلته به خطيب دخطبې پرمهال په خپل لاس كې توره نيسي، د دې له پاره چې خلكو ته وښودل شي، چې ستاسې ټاټوبی په جهاد اوتورې سره فتحه شوی دی، كه چېرته بيا تاسې دكفر لورې ته وګرځېدئ نو بيا به هم دا توره دمسلمانانو له خوا ستاسو په مقابل كې كارول كيږي.

خوپه دې اړه چې داتوره به خطيب په لاس كې نيسي او كه غاړه كې به يې اچوي له فقهاوو څخه بېلابېل اندونه نقل شوي دي، ځينو فقهاوو ليكلي دي، چې په غاړه كې به يې اچوي او ځينو نورو ليكلي دي چې په لاس كې به يې نيسي.[٦٩]

**په لوړ غږ سره د خطبې ويل مستحب دي**

---

[٦٦] ـ ردالمحتارمع الدرالمختار ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱۴۷. الناشر: دارالفكربيروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

[٦٧] ـ البحرالرائق ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۲. ص ۲۵۸. الناشر: المكتبة الحقانية بشاور.

[٦٨] ـ الفتاوى الهنديه ـ كتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفي صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱۴۸. الناشر: مكتبه فاروقيه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.

[٦٩] ـ البحرالرائق ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۲. ص ۲۵۹ ـ ۲۶۰. الناشر: المكتبة الحقانية بشاور.

کله چې خطیب خطبه وایي نو ښایي، چې په لوړ غږ سره یې ووایي، ځکه چې د خطبې په لوړ اواز سره ویل مستحب کار دی، همدارنگه داهم مستحب ده، چې دویمه خطبه له لومړۍ خطبې څخه په ټیټ غږ سره وویل شي.(۷۰)

**د خطبې د اذان ځواب**

د اذان د اورېدو پرمهال د اورېدونکي له پاره سنت داده، چې د اذان ځواب ورکړي په دې شان، چې د اذان کلمې به اورېدونکي هم له ځان سره وایي. کله چې مؤذن حی علی الصلاة او حی علی الفلاح ووایي، نو اورېدونکي به یې ځواب په لاحول ولاقوة الابالله سره ورکوي او کله چې مؤذن د سهار په اذان کې الصلاة خیرمن النوم ووایي، نو اورېدونکي به صدقتَ وبررتَ په ځواب کې وایي، خو د جمعې په ورځ چې له خطبې مخکې کوم اذان دخطیب په وړاندې کیږي ددې اذان ځواب ورکول په خوله باندې ناروا دي. ښایي چې په زړه کې ځواب ورکړل شي، ځکه چې کله خطیب د منبر په لور روان شي، نو په حاضرېنو باندې سکوت لازم دی.(۷۱)

**له عربي پرته په نورو ژبو باندې خطبه ویل**

داخبره دعلماوو ترمنځ اتفاقی ده، چې له عربي ژبې پرته په نورو ټولو ژبو باندې خطبه ویل مکروه تحریمي دي، ځکه چې کله صحابه وو دعجمو هېوادونه ونېول سره له دې چې عجم په عربی ژبه نه پوهېدل او ډېر داسې صحابه موجود و، چې هغوی عجمي ژبه باندې خطبه ویلای شوی، خو بیایې هم خطبې په عربی باندې ویلي دي، داځکه چې په عربی ژبه باندې خطبه ویل له تل پاتې سنتو څخه گڼل کیږي او ددې خلاف کول مکروه تحریمي دي.

یاده دې وي، چې دټولې خطبې په څېر دخطبې یوه برخه هم له عربي پرته په نورو ژبو باندې ناروا ده، د بیلگې په توگه: په فارسی، اردو، پښتو اوداسې نورو ټولو ژبو باندې ټوله خطبه یا دخطبې یوه برخه ویل جواز نه لري او همدارنگه له عربي پرته په نورو ژبو باندې په خطبه کې شعرونه ویل هم ناروا دي.(۷۲)

**د خطبې د نه اورېدو په صورت کې هم چپ پاتې کېدل ضروري دي**

۷۰ ـ الفتاوی الهندیه ـ کتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة. ج ۱. ص۱۴۷.الناشر: مکتبه فاروقیه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.

۷۱ ـ ردالمحتارعلی الدرالمختار ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱۵۹.الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

۷۲ ـ عمدة الرعایه في حل شرح الوقایة ـ کتاب الصلاة ـ باب الجمعة. ج ۱. ص ۲۴۲.الناشر: المکتبة الحقانیة بشاور.

د خطبې پرمهال که څوک له امام څخه لرې وي اوخطبه نه اوري، بیاهم د ده لپاره چپ پاتې کېدل اړین دي، ځکه چې د خطبې پرمهال لرې والی اونږدې والی، اورېدل اونه اورېدل یو ډول حکم لري، داسې مهال که څوک خبرې کوي، نو د ده لپاره داخبرې کول مکروه تحریمي دي.(۷۳)

**د خطبې د اورېدو پرمهال د خوراك اوڅښاك حكم**

لكه څنگه چې د خطبې پرمهال د اورېدونكو لپاره خبرې كول مكروه تحريمي دي، همدارنگه د اورېدونكو لپاره د خطبې پرمهال خوراك اوڅښاك كول هم مكروه تحريمي دي، ځكه چې كوم كارونه په لمانځه كې ناروا دي، هغه د خطبې د اورېدو پرمهال هم ناروا دي.(۷٤)

**په لوډ سپېكركې د خطبې ويلو حكم**

په دې اړه علماوو ليكلي دي، چې لوډ سپېكر يوائې د انسان غږ اوچتوي او كوم غږ، چې له لوډسپېكر څخه وزي هغه دانسان خپل اواز وي، نو ځكه خو په لوډسپېكر كې خطبه ويل روا دي او ددې دناروا والي لپاره هيڅ كوم شرعي دليل نشته، ځكه چې معاصرو علماوو په لمانځه كې هم د لوډسپېكركارول رواگڼلي دي.(۷٥)

**د دواړو خطبو په منځ كې دعا كول**

كله چې خطيب لومړۍ خطبه ووايي، مخكې تردې چې دويمه خطبه پيل كړي د ناستې پرمهال په ژبه سره دعا كول مكروه دي، هم د خطيب لپاره او هم د سامعينو لپاره، ځكه چې دا ډول دعا كول د نبوي سنتو خلاف ده، له پېغمبرعليه السلام څخه د خطبو په منځ كې سكوت نقل شوى دى، خوكه څوك په دې وخت كې په خپل زړه كې دعا وكړي له كراهيت پرته جواز لري.(۷٦)

**د خطبې پرمهال په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندې درود ويل**

د خطبې پرمهال چې كله خطيب ددې آيت تلاوت وكړي چې إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يصَلُّونَ عَلَى النَّبِى.(۷۷) نود مقتديانو لپاره په ژبه باندې درود ويل مكروه دي، ځكه چې په دې سره چپ پاته كېدل او د خطبې اورېدل فوت كيږي، چې د خطبې له ضرورياتو څخه دي، داسې مهال به مقتدى پټ په زړه كې په رحمت عالم سيد العرب والعجم صلى الله عليه وسلم باندې درود وايي.(۷۸)

**د خطبې پرمهال لاسونه پورته كول او په زوره آمين ويل**

---

۷۳ ـ الفتاوى الهنديه ـ كتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفى صلاة الجمعة. ج ۱. ص۱٤۷.الناشر: مكتبه فاروقيه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.

۷٤ ـ البحرالرائق ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۲. ص ۲٥۹.الناشر: المكتبة الحقانيه بشاور.

۷٥ ـ البحرالرائق ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۲. ص ۲٥۹.الناشر: المكتبة الحقانيه بشاور.

۷٦ ـ سنن ابي داود ـ ابواب الجمعة ـ باب الرجل يخطب على قوس. ج ۱. ص ۲۸٦. رقم ۱۰۹۲. الناشر: المكتبة العصريه بيروت.

۷۷ ـ الاحزاب/ ٥٦.

۷۸ ـ ردالمحتارعلى الدرالمختار- كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱٥۸.الناشر: دارالفكربيروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

کله چې خطیب په خطبه کې دعا وکړي، نو د مقتدیانو لپاره لاسونه پورته کول او په زوره آمین ویل ناروا دي، ښایي چې پټ په زړه کې آمین وویل شي، په دې وخت کې که څوك په زوره آمین ووایي په دې سره ګناه کار ګرځي ځکه چې دا کار د سنتو خلاف دی.(۷۹)

**د خطبې پرمهال سنت کول مکروه دي**

کله چې امام خطبه پیل کړي، له هغه وروسته سنت کول مکروه دي ، ځکه چې د خطبې له پیل کېدو وروسته هرهغه کار ناروا ده، چې په هغه سره دخطبې له اورېدو څخه شغل راځي.(۸۰)

**د دوو خطبو په منځ کې لاسونه پورته کول او دعا کول**

د دوو خطبو په منځ کې که څوك دعا کول غواړي، نوښايي چې په زړه کې دعا وکړي، په دې وخت کې د لاسونو پورته کول اوپه ژبه دعا کول مکروه دي.(۸۱)

**د خطبې د ویلو پر مهال چنده ټولول ناروا دي**

کله چې امام خطبه پیل کړي، نوپه دې وخت کې دچندې ټولول ناروا دي، ځکه چې د خطبې اورېدل او چپ پاته کېدل په اورېدونکو باندې واجب دي، داسې مهال دچندې ټولول د واجبو د پرېښودلو سبب جوړیږي. علماوو د خطبې په وخت کې په ژبه باندې دعا کولو، ذکرکولو اوهرډول خبرو کولو ته ناروا ویلي دي، نوښايي چې دخطبې پرمهال له چندې ټولولو څخه په کلکه ډډه وشي، هغه که دجومات لپاره وي، که دمدرسې لپاره وي او یا د نورو ټولنېزو ټولګټو کارونو لپاره وي.(۸۲)

**په ناسته باندې خطبه ویل**

په ناسته باندې خطبه ویل مکروه ده، ځکه چې دا ډول خطبه د نبوي سنتوخلاف ده او کوم کار چې له سنتو سره په ټکر کې وي هغه مکروه وي. فقهاوو لیکلي دي چې لومړی خطبه فرض ده، دویمه خطبه سنت ده او دواړه خطبې په ولاړه ویل سنت دي، خو دعذر پرمهال خطبه په ناسته ویل له کراهیت پرته جواز لري.(۸۳)

**خطیب ته مخامخ دویم اذان کول**

---

۷۹ ـ ردالمحتارعلی الدرالمختارـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱۵۸ .الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

۸۰ ـ ردالمحتارمع الدرالمختارـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱۵۸ .الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

۸۱ ـ ردالمحتارمع الدرالمختارـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱۵۸ .الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

۸۲ ـ الهدایة ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱۵۳ .الناشر: جدیدمکتبه رشیدیه بشاور.

۸۳ ـ بدائع الصنائع ـ کتاب الصلاة ـ فصل في صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۵۹۲ .الناشر: مکتبه عمریه بلوچستان.

کله چې امام د خطبې د ویلو لپاره په منبرباندې کښېني، نومؤذن (اذان کونکی) به مخامخ هغه ته درېږي او اذان به کوي، له هغه وروسته به امام خطبه وایي او تر هغه وروسته به د لمانځه لپاره اقامت ویل کیږي.(۸٤)

**د جُمعې د لمانځه د صحت لپاره اذن عام (عامه اجازه) شرط ده**

د جُمعې د لمانځه له شرطونو څخه یو اذن عام دی، معنا داچې کوم ځای کې د جمعې لمونځ اداکیږي، هلته به ټولو مسلمانانو ته د ورتلو اجازه شوې وي. څوک چې دجمعې لمانځه ته راځي هغه ته به هیڅ ډول مانع اوخنډ نه وی، چې دهغه په وجه څوک له لمانځه څخه بند شي. کوم ځای کې چې دجمعې دلمانځه لپاره عامه اجازه نه وي، یوازې ځېنو خلکو ته اجازه وي او ټولو ته د ورتلو اجازه نه ورکول کیږي، داسې ځای کې د جمعې لمونځ جواز نه لري، سره له دې چې د اذن عام شرط په ظاهرالروایة کې نشته خو په نادرالروایة کې شته.

په نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې دالله تعالی له لوري د جمعې د لمانځه حکم راغلی و، خو پیغمبرصلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې د جمعې لمونځ نه کاوه سره له دې چې هغه دا توان درلود، چې صحابه کرام یې په یوه پټ ځای کې راغونډ کړي وای اوهلته یې په پټه سره د جمعې لمونځ اداکړی وای؛ خو له هغه سره دا توان نه و، چې په ښکاره ډول یې د جمعې لمونځ ادا کړی وای، چې هلته عامه اجازه موجوده وي، له دې څخه څرګنده شوه چې د جمعې د لمانځه له پاره اذن عام شرط دی.(۸۵)

**په حکومتي ځایونو کې د جمعې لمونځ**

له حکومتي ځایونو څخه هغه ځایونه مراد دي، چې هلته عاموخلکو ته د ننوتلو اجازه نه وي، د بېلګې په توګه: قل اردو، فرقه، معسکر (د عسکروتم ځای اوتعلیم ځای) او داسې نور ځایونه، چې هلته عامو خلکو ته د ننوتلو اجازه نه ورکول کیږي؛ سره له دې چې دې ډول ځایونو کې عام اذن نشته، خو بیاهم د جمعې لمونځ پکې روا دی، ځکه چې اوس مهال زیات حکومتي ځایونه په ښارونو یا لویوکلیو کې دي او هلته په بېلابېلو جوماتونو کې د جمعې لمونځ اداکیږي، خو که چېرته ددې ښار په ډېرو برخو کې دجمعې لمونځ نه اداکېده یوازې په دې حکومتي ځای کې ادا کېده، داسې مهال بیا په دې حکومتي ځای کې د جمعې د لمانځه د صحت لپاره عامه اجازه شرط ده اوپرته له عامې اجازې د جمعې لمونځ ناروا دی.

بل داچې په حکومتي ځایونو کې خلکو ته اجازه نه ورکول ددې لپاره نه وي، چې خلک له لمانځه څخه بندکړي، بلکې دا اجازه نه ورکول ددې لپاره وي، چې د فسادکونکو او دښمن د ننوتلو مخنیوی وشي، دا یو څرګند حقیقت دی، چې ډیرځلې دحکومتي ځایونو ساتونکي هغه چاته اجازه نه ورکوي،

---

٨٤ ـ الموسوعة الفقهية ـ حرف الصاد ـ مطلب: صلاة الجمعة. ج ٢٧. ص ٢٠٦.الناشر: امیرحمزه کتب خانه کوېټه. سنة الطبع: ۱۴۲۷هـ ق.

٨٥ ـ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ١. ص ٣١٩.الناشر: المكتبة الطارق كابل.

چې هغه فسادکونکي وي، هغو خلکو ته دننوتلو اجازه ورکوي، چې هغوی لمونځ کونکي وي، نو داسې مهال هغه عامه اجازه چې د جمعې د لمانځه د صحت لپاره شرط ده موجوده وي.(۸۶)

**د جُمعې د لمانځه لپاره جومات شرط نه دی**

د فقهاوو له تصریحاتو څخه څرګندیږي، چې د جمعې د لمانځه د صحت لپاره جومات شرط نه دی. کومو سیمو کې چې د جمعې د لمانځه شرطونه موجود وي هلته د جمعې لمونځ روا دی. برابره خبره ده که هغه په جومات کې وي، که په عېدګاه او یا په بل کوم ځای کې وي، ځکه چې ډېرو فقهاوو د مواضع لفظ راوړی دی او مواضع عام دی جوماتونو اوغیر له جماتونو ټولوته شاملیږي.(۸۷)

**په اسلامي هېوادونو باندې د کافرانو د غلبې پرمهال د جُمعې د لمانځه حکم**

لکه څنګه چې د جُمعې لمونځ په دارالاسلام کې روا دی، همدارنګه په دارالحرب کې هم روا دی. کله چې متجاوز کافران په یوه اسلامي هېواد یا سیمه باندې یرغل وکړي او هلته خپل کفري قانون پلی کړي هغه ځای ته دارالحرب ویل کیږي او کله چې کافران د مسلمانانو په خاوره تېری او یرغل وکړي اوهلته خپل کفري نظام جاري نه کړی، بلکې هلته د مسلمانانو خپل اسلامي نظام پلی کړي، نو هغه ځای ته دارالحرب نه ویل کیږي، دې ځای ته دارالاسلام ویل کیږي.

دبېلګې په ډول: زموږ د ګران هېواد افغانستان په پاکه خاوره د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ مغروره کافرانو څو ځله یرغل کړی دی، چې په وروستي ځل امریکایانو او د دوی متحدینو زموږ پاکه خاوره ترخپل کفري یرغل لاندې راوستلې وه، دوی د خپل وحشي یرغل پرمهال په افغانستان کې په مسلمانانو باندې خپل کفري قانون نه و پلی کړی، بلکې دوی خپلو اجېرانو ته چې په ښکاره خپل ځانونه اسلام ته منسوبوي د اسلامي قانون د پلي کېدو حکم کړی و، نو ځکه خو افغانستان په دې اوسني یرغل او تردې وړاندې د روسانو د یرغل پرمهال دارالحرب نه دی ګرځېدلی اوکه دارالحرب هم شي او د کافرانو له خوا کفري نظام هم پلی شي بیاهم د جمعې لمونځ په کې روا دی، ځکه چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم له هجرت مخکې صحابه کرامو په مدینه منوره کې د جمعې لمونځ کاوه او هغه مهال مدېنه منوره دارالحرب وه.

همداراز په جواثی کې، چې د بحرین یوکلی و د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ژوند کې د جمعې لمونځ ادا شوی و، حال داچې هغه دارالحرب و، ځکه چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه د خلافت پرمهال د جواثی سیمه فتحه شوه او دارالاسلام وګرځېد له دې څخه څرګندیږي، چې دجمعې لمونځ په دارالحرب کې هم روا دی.(۸۸)

**د جُمعې د لمانځه له لومړي اذان وروسته پلورل اوپېرودل مکروه تحریمي دي**

---

۸۶ـ مجمع الانهرفي شرح ملتقي الابحرـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱٦٦.الناشر: داراحیاء التراث العربي.

۸۷ ـ البحرالرائق ـ كتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۲. ص ۲۴۰.الناشر: المكتبة الحقانیه بشاور.

۸۸ ـ بذل المجهود ـ ابواب الجمعه ـ باب الجمعة في القرى. ج ۲. ص ۱۷۰.الناشر: مكتبة الشیخ بهادرابادكراتشی.

سره له دې چې ځېنو فقهاوو دويم اذان غوره کړی دی، خو په دې اړه مفتی به قول دادی، چې د جمعې د لمانځه له لومړي اذان وروسته د جمعې د لمانځه ترپای ته رسېدو پورې پلورل، پېرودل، خوب کول، له چاسره په خبرو بوختېدل، د قران کريم تلاوت کول او داسې نورکارونه، چې د جمعې لمانځه ته د تللو د وروسته کېدو سبب جوړيږي مکروه تحريمي دي.

يوازې د خوراک په اړه فقهاوو ليکلی دي، چې که چېرته د لوړې پرمهال خوراک کولو ته ميلان ډېر و، او د لمانځه پرمهال يې خوراک ته د ميلان له امله توجو نه برابرېدله، نو خوراک کول په دې شرط روا دي، چې خطبه ترې پاته نه شي. ددې له پاره چې خلک له ګناه څخه وژغورل شي، نو د خطيبانو له پاره غوره دا ده، چې د جمعې په ورځ له لومړي اذان وروسته له څنډ پرته وعظ اونصېحت پيل کړي او په لنډ وخت کې خپل تبليغ پای ته ورسوي، له هغه وروسته پيوسته د جمعې لمونځ ادا کړي، په دې سره به خلک له ګناه څخه وساتل شي.[۸۹]

**د جمعې له لمانځه وروسته احتياطي لمونځ کول**

په ښارونو کې احتياطی لمونځ کول جواز نه لري، همدارنګه په وړوکي کلي کې هم احتياطي لمونځ ناروا دی، ځکه چې په وړوکی کلي کې د جمعې لمونځ اداکول له حنفي مذهب سره په ټکر کې ده.
خو په ځينو ځايونو کې، چې د جمعې د لمانځه د نه کېدو شک وي، ځېنې خلک دجمعې ترلمانځه وروسته څلور رکعته احتياطي لمونځ اداکوي، په دې اړه ځېنو فقهاوو ليکلي دي، چې داسې مهال يې اداکول غوره دي، خو شرط دادی، چې د څه فساد درامنځته کېدو وېره نه وي، خو بياهم ددې لپاره چې خلک د جمعې په لمانځه کې شکمن نه شي او د څه فساد درامنځته کېدو وېره له منځه لاړه شي، نو لازم ګرځول، اعلان ورته کول، اوښکاره کول يې مناسب نه دي.[۹۰]

**د جُمعې دورځې غُسل د جُمعې د لمانځه له پاره سنت دی**

په دې اړه دعلماوو اختلاف دی، چې د جمعې په ورځ غُسل کول ددې ورځې لپاره سنت دی او که د جمعې دلمانځه لپاره؟

راجح مسلک د امام ابويوسف رحمه الله دی هغه وايي، چې د جمعې په ورځ غسل کول د جمعې د لمانځه لپاره سنت دی، که څوک د جمعې په ورځ له لمر ختو وروسته ځان ومينځي او بيا د جمعې له لمانځه مخکې هغه بې اودسه شي له دې وروسته اودس وکړي او د جمعې لمونځ ادا کړي، نو په دې سره دهغه سنت غسل نه ادا کيږي.[۹۱]

**د جُمعې په لمانځه کې به امام دسهوې سجده نه کوی**

---

[۸۹] ـ الفتاوی الهنديه ـ کتاب الصلاة ـ الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة. ج ۱. ص۱۴۹.الناشر: مکتبه فاروقيه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰ هـ ق.

[۹۰] ـ ردالمحتارعلی الدرالمختار ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ ج ۲. ص ۱۴۶.الناشر: دارالفکربيروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

[۹۱] ـ فتاوای قاضي خان ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۸۷.الناشر: مکتبه سلطانيه کوېټه.

کله چې د جمعې په لمانځه کې امام سهوه شي، د کومې سهوې په وجه چې د سهوې سجده لازميږي، نو داسې مهال مفتی به قول دادی، چې د سهوې سجده به نه کوي ځکه چې د جمعې او اخترونو په لمونځونو کې خلك ډېر وي. قوي امكان داوي چې خلك په فتنه کې پرېوځي او لمونځ يې له ستونزو سره مخ شي، نو غوره داده چې سجده سهوه ونه کړل شي.[۹۲]

**د سخت باران پرمهال د جمعې لمونځ پرېښودل**

د سخت باران د اورېدو پرمهال، چې ختې ډېرې وي او د جمعې لمانځه ته په تلو کې تکليف اوستونزې وي، نو داهم د نورو عذرونو په څېر يوډول عذر ګڼل کيږي، دا مهال رواده چې يو څوك د جمعې لمونځ پرېږدي.[۹۳]

**د جُمعې لمونځ قضايي نه لري**

کله چې له يوه مکلف سړي څخه د څه عذر له امله يا له عذر پرته د جمعې لمونځ پاته شي، نو هغه باندې د جمعې د لمانځه راګرزول نشته. دا مهال د نورو لمونځونو په خلاف به دی د ماسپښين لمونځ اداکوي، ځکه د نورو فرضو قضايي واجب ده.[۹٤]

**د فرض الوقت په اړه درې مذهبونه**

په دې اړه چې د جمعې په ورځ د ماسپښين په وخت کې د ماسپښين لمونځ فرض دی او که د جمعې لمونځ فرض دی؟

له فقهاوو څخه بيلابېل اندونه نقل شوي دي. لومړی مذهب د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهماالله دی، دوی وايي چې فرض الوقت د جمعې په ورځ ماسپښين مهال د ماسپښين لمونځ دی، خو شريعت موږ ته ددې لمانځه دپرېښودو او د جمعې د لمانځه د اداکېدو حکم کړی دی.

دويم مذهب د امام محمد رحمه الله دی، هغه وايي چې د جمعې په ورځ ماسپښين مهال په دې دوو لمونځونو کې له تعين پرته يو لمونځ فرض دی او په دې دوو لمونځونو کې د يوه لمانځه ټاکنه او ګمارل دبنده تر کړنې پورې تړاو لري. که د جمعې په لمانځه يې پيل وکړ همدا لمونځ په ده باندې فرض دی او که د ماسپښين په لمانځه يې پيل وکړ، نوهمدا د ماسپښين لمونځ په ده باندې فرض دی.

دريم مذهب د امام زفررحمه الله دی، هغه وايی چې د جمعې په ورځ ماسپښين مهال د جمعې لمونځ فرض دی، د ماسپښين لمونځ د جمعې د لمانځه بدل دی، معنی داچې کله له چا څخه د جمعې

[۹۲] ـ ردالمحتارعلی الدرالمختار ـ کتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة ـ مطلب فی شروط وجوب الجمعة. ج ۲. ص ۱۵۷.الناشر: دارالفکربيروت. سنة الطبع: ۱۳۱۲ هـ ق.

[۹۳] ـ الفقه الاسلامي وادلته ـ باب الجمعة. ج ۲. ص ۱۲۹۰.الناشر: دارالفکر ـ سوريه ـ دمشق.

[۹٤] ـ الموسوعة الفقهية ـ حرف الصاد ـ مطلب: صلاة الجمعة. ج ۲۷. ص ۲۰۸.الناشر: اميرحمزه کتب خانه کوټه. سنة الطبع: ۱۴۲۷هـ ق.

لمونځ پاته شي، نو دی به د ماسپښین لمونځ اداکوي او دا د ماسپښین د لمانځه اداکول دده لپاره د جمعې له لمانځه ځخه بدل دی.[۹۵]

## پایلیزه

- د جُمعې لمونځ فرض او منکر یې کافر دی.
- جُمعه اسلامي نوم دی د جاهلیت په دور کې دې ورځې ته عروبه ویل کېده.
- پیل یې په مدینه منوره کې شوی.
- د رکعتونو ټول شمېر یې دولس دی.
- د روا کېدو شرطونه یې پنځه دي.
- د وجوب شرطونه یې شپږ دي.
- په لوی کلي کې چې د ښار حکم لري د جُمعې لمونځ روا دی.
- د خطبې اړوند د بېلابېلو اړینو احکامو بیان.
- په اسلامي هېوادونو باندې د کافرانو د غلبې پر مهال د جُمعې د لمانځه حکم.
- د جُمعې دورځې غُسل د جُمعې د لمانځه له پاره سنت دی.

## سرچینې


اعلاءالسنن ـ للمولانا المحدث ظفراحمدالعثمانی. الناشر: دارالفکربیروت. فی ثمانیة عشر مجلدات.

الموسوعة الفقهیة ـ للهیئة کبارعلماء الاسلام. الناشر: امیرحمزه کتب خانه کویته. سنة الطبع: ۱۴۲۷هـ ق. فی خمسة واربعون مجلدات.

البحرالرائق ـ للعلامه زین الدین ابن ابراهیم المعروف بابن نجیم المصری. الناشر: المکتبة الحقانیه بشاور. فی ثمانیة مجلدات.

الدرالمختارعلی صدرردالمحتارـ للعلامه علاءالدین الحصکفی. الناشر: دارالفکربیروت. سنة الطبع: ۱۴۱۲هـ ق. فی ستة مجلدات.

الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید ـ للعلامه عبدالحمیدطهمان. الناشر: المکتبة الطارق کابل. فی خمسة مجلدات.

الفتاوی الهندیه - للجنة علماء برئاسة نظام الدین البلخی. الناشر: مکتبه فاروقیه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۱۰هـ ق. فی ستة مجلدات.

الاختیارلتعلیل المختار-للعلامه عبدالله بن محمود الموصلی. الناشر: المکتبة الحقانیه بشاور. سنة الطبع: ۱۳۵٦هـ ق. فی مجلدین.


---

[95] ـکتاب الاختیارلتعلیل المختارـکتاب الصلاة ـ باب صلاة الجمعة. ج ۱. ص ۱۱۱. الناشر: المکتبة الحقانیة بشاور. سنة الطبع: ۱۳۵٦ هـ ق.

النتف فى الفتاوى - للقاضى القضاة ابى الحسن على السغدى. الناشر: نورالقرآن كتابحانه كويته. فى مجلد واحد.

بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع - للعلامه علاءالدين ابوبكر بن مسعود الكاسانى. الناشر: مكتبه عمريه بلوچشتان. سنة الطبع: ۱۴۰٦هـ ق. فى سبعة مجلدات.

جامع الترمذى - للامام محمدبن عيسى الترمذى. الناشر: دارالغرب الاسلامى. سنة الطبع: ۱۹۹۸م. فى ستة مجلدات.

ردالمحتارعلى الدرالمختار- للعلامه محمد امين بن عمرالمعروف بابن عابدين الشامى. الناشر: دارالفكربيروت. سنة الطبع: ۱۴۱۲هـ ق. فى ستة مجلدات.

سنن ابى داود - للامام سليمان بن الاشعث السجستانى. الناشر: المكتبة العصريه بيروت. فى اربعة مجلدات.

سنن ابن ماجه - للامام ابوعبدالله محمدبن يزيد القزوينى. الناشر: داراحياءالكتب العربيه. سنة الطبع: ۱۹۵۲م. مجلدين.

شرح معانى الاثار- للامام ابوجعفراحمدبن محمد المعروف بالطحاوى. الناشر: عالم الكتب. ۱۴۱۴هـ ق. فى خمسة مجلدات.

مصنف ابن ابى شيبه - للامام ابوبكرابن ابى شيبه. الناشر: مكتبة الرشد الرياض. سنة الطبع: ۱۴۰۹هـ ق. فى سبعة مجلدات.

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute
Journal license date: June/2023

# احکام یوم الجمعة وصلاته

**المفتی سید ضیاءالاحمد صارم**

رئیس مؤسسة لوجر للتعلیم العالی.
البرید الکترونی: ziaulahmadsarem@gmail.com

## ملخص

**خلاصة البحث:** لقد ورد فی هذا البحث الاحکام الصحیحة والموثوقة المتعلقة بیوم الجمعة والصلاة، والتی ینبغی لکل مسلم ان یتعلمها.

وقد تبین تسمیة هذا الیوم یوم الجمعة، ووجوب الصلاة فیه، ووقت الصلاة، وشروط جوازها ووجوبها، وعددالرکعات، وغیر ذالک من المسائل.

**هدف الدراسة:** التعرف علی احکام صلاة الجمعه.

**منهج البحث:** هذا البحث اساسی من حیث الاهداف ونوعی من حیث المعلومات والبیانات، وقد تم استخدامه بشکل صحیح فی ضوءالقران الکریم والاحادیث الشریفه عندعلماء وفقهاء المذهب الحنفی، ویتم التحلیل فیه من کل الی جزء علی طریق قیاسی.

**خاتمة البحث:** یوم الجمعة المبارکة تم اختیاره لعید وعبادة الامة المحمدیه،وقبل ذالک لم تکن الامم الاخری تحتفل بهذا الیوم بعبادة الله، فعلی المسلم ان یحتفل هذا الیوم بعبادة الله تعالی.

**نتیجةالبحث:** تبین من الایات والاحادیث المبارکة ان الاحتفال بیوم الجمعة المبارکة بالاعیاد والعبادات هو من خصائص الامة المحمدیه.

**الکلمات المفتاحیه:** احکام، یوم الجمعة المبارکة، معالمها، المستند، اساسیة.

**استناد:** صارم، ضیاءالاحمد. (۱۴۰۳) د جُمعې د لمانځه احکام او ځانګړتیاوې. د **عینک** *علمی*- څېړنیزه مجله، دویم کال، ۳ ګڼه، صفحه۱۸۴-۲۰۳.
خپرندویه اداره: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه
د لیکوال یا لیکوالانو حق ©.

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Logar Institute of Higher Education
Vice Chancellor for Academic & Students affairs
Department of Research and Academic Journal

# Ainak Academic- Research Journal

**Vol. 2**
**Issue No. 3**

**December 2024**